وهمچنان شماراامت وسطي ساختيم
تابرمردم گواه باشيد وپيامبر(ص) برشماگواه باشد

شهادت

(۸) صفحه

ارگان مرکزی حزب اسلامی افغانستان

دکابل رژیم دملیشوتر منځ د سختو نښتوپه ترڅ کي (۵۰)تنه وژل شویدي

میدیا :
دفاریاب ولایت ددولت آباد په ولسوالي کي درسول پهلوان اووکیل حبیب الله دملیشو ترمنځ دوږي دمیاشتي د ۱۹ نیټي څخه تر۲۳ نیټي پوري سخته جګړه وشوه چي دغه جګړه دخلکودلوټ کړل شویو مالونو دتقسیم کولو په سرشوي چي دهغي په نتیجه کي درسول پهلوان ۲۵ تنه اودوکیل حبیب الله څخه ۱۵ تنه وژل شوي اوورئي ټپیان شوي دي.
ریوټ زیاتوي چي دبادغیس ولایت دغورماچ په ولسوالي کي هم داځکزواوموسی خیلو دقومونو دملیشو ترمنځ هم دوږي دمیاشتي په ۲۰ نیټه په خپل منځي نښتوکي دوادرو خواوڅخه ۱۰ تنه وژل شویدي .

الهي لارښووني

لوي خداي جل جلاله فرمايي :

اي خلکو! ماتاسي له يونراوښځي څخه پيداکړي اوبيامي شعبي شعبي او قبيلي قبيلي وګرځولي ددي لپاره چي يوبل وپيژني ، خبره داده بله نه ده چي دالله په نزد عزتمن دتاسي متقي دتاسودي .

حجرات - ۱۳ آيت

شماره مسلسل (۳۸۰) سال چهاردهم ،شماره (۷٦)پنجشنبه (٤)میزان ۱۳۷۰ هـ .ش- (۱۸)ربیع الاول ۱٤۱۲ هـ.ق- (۲٦)سپتمبر ۱۹۹۱م

پرګردیز باندي دمجاهدینو دګډوعملیاتو پەلړکي ددښمن ۱٤ نقلیه وسیلي اویوه جټ الوتکه له مینځه تللي ده

افغان نیوزایجنسي :
دګردیزڅخه په رارسیدلو ریپوټونو کي ویل شویدي چي په تیروڅلورویشتو ساعتوکي دنومیالیو مجاهدینو دګډوعملیاتو په ترڅ کي چي دمیزان دمیاشتي په (۲) نیټه پي دګردیز پرښاراونظامي پوسټو ترسره کړل په نتیجه کي دملحددښمن ۱٤ عرادي نقلیه وسیلي اویوه د بي ایم ۱۳ دستګاه له منځه وړي ده .
خبرځاي لیکي په هغه بریدونوکي چي دوږي په ۲۷ نیټه مجاهدینو دګردیز په نظامي قرارګاووباندي ترسره کړل دملحدرژیم ۲۷ تنه عسکراوصاحب منصبان وژل شوي دي اوجنګ په شدت سره دوام لري .
مجاهدینو دوږي دمیاشتي په ۲۳ نیټه درژیم یوه جیټ الوتکه هغه وخت په ستنګر توغندي وویشتله اوځمکي ته یې راوغورځوله چي دګردیز دښار په شاوخواکي دمجاهدینو په مرکزونوبې بمباري کوله .
ریوټ وائي چي دغه الوتکه دګردیزاولوګرولایت ترمنځ دوچي کندي په نامه سیمي ولویده چي عمله ئې پکي له منځه تللې ده .

تمام احزاب جهادی باید درباره سرنوشت ملت مسلمان افغانستان دخیل باشند

استاد ربانی

هاوسفرهاازعوامل ضروري بشمارمي رود

استاد برهان الدین رباني رهبرجمعیت اسلامي افغانستان به تاریخ ۳۰ سنبله بانماینده میدیا درباره خبرمنتشره مطبوعات پاکستاني ابرازنظرنموده گفت : سفري که مجاهدین به نیویارك وبعداً به مسکوخواهند داشت بنده درجمله اعضاي هیئت که عازم نیویارك ،مسکوهستند، نمیباشم بلکه درین هیئت شخص دیگري ازجمعیت نماینده گي خواهد کرد . ولی سفرسه عضودیگرهیئت راکه عبارت انداز مجددي، سیداحمد گیلاني ومولوي محمدنبي میباشند تصدیق نمود .
استاد رباني علاوه کرد که وي به رهبران مجاهدین پیشنهاد نموده است سایر احزاب دیگرمجاهدین یعنی حزب اسلامي ، حزب اسلامي "خالص" واتحاداسلامي نباید درقضایا نادیده گرفته شوند ووجودشان درچنین سفر ها وفیصله هاحتمي وضروري میباشد ، درغیرآن این رفت وآمد به نتائج مفید نخواهد رسید .
ایشان افزودند : فعلاً رهبران مجاهدین مشغول مباحثات درباره تعیین اعضاي دیگرهیئت ورسیدن به یك راه حل مشترك باتنظیم هاي فوق الذکراند .
استاد علاوه نمود چیزي که نزدما قابل اهمیت خواهد بود عبارت ازنتائج ین سفرمي باشد ، رهبران مجاهدین درین مرحله حساس انقلاب اسلامي کشور باید مشترکاً عمل نمایند داشتن وحدت عمل ، برنامه هاي هم آهنګ واشتراك مساعي تمام احزاب مجاهدین درین فیصله

ایران اوشوروي په خپلو مینځونو کي یوه سرحدي لارپرانستله

مسکو - دتلي ۲ نیټه :
دشوروي اوایران مقاماتو دایران په شمال ختیځ کي ددواړو هیوادونو په پوله کي دتګ راتګ یوه نوي لاره پرانستله دمسکو درادیو پواسطه وائي چي دغه سرحدیه دښتې اوسه شتي په ورخوکي خلاص وي اوله هري خوا څخه په دورځي پنځوس کسه پلي خواته تیریږي .
دغي رادیو وویل چي توقع کیږي نوري لاري هم خلاصي شي، خوځکه ئي ونښود . دشوروي دترکمنستان دباجګیران سرك چي ایران اوترکمنستان ئي سره نښلي دتیروپنځه لسوکالونو راهیسې تړلي او هغه ترکمنان چي غوښتل ئي ایران ته ولاړ شي خپله لاربه بي اوږده وله اوداآذربایجان له لاري به ایران ته تلل .

۹۰ تن ازعساکر رژیم مزدور دربغلان کشته یازخمي گردید

بغلان - میدیا :
به اساس گزارش هاي رسیده ازولایت بغلان قواي رژیم کابل به تاریخ ۲٤ سنبله سال جاري درحالي ۲۹ نفرکشته و ۳۰ زخمي به جاگذاشت که مي خواست مراکز وپوسته هاي ازدست رفته شان را که مجاهدین چندي قبل درشهرکهنه بغلان فتح نموده بودند دوباره اشغال نماید .
گزارش مي افزاید که دشمن پس از زدوخوردشدید فرارنموده ومجاهدین یك میل راکت ، پنج میل کلاشینکوف ومقادیرزیاد مهمات نظامي را به غنیمت گرفتند . هم چنان دوعراده تانك زرهي دشمن طعمه حریق گردید راپور علاوه مي کند که دشمن جهت تلافي این کار مناطق مسکوني مردم راهدف بمباران هوائي و انداخت سلاح ثقیله خویش قرارداده تعداد ازخانه هارا ویران و حاصلات زراعتي مردم را به آتش کشانیدند هکذا سه تن ازبرادران مجاهد نیز به درجه رفیع شهادت نائل آمدند . روح شان شاد

دحزب اسلامي افغانستان دعامي روغتیارئیس ورور داکتر جان محمد(همکار) دشهادت خبریال سره په مرکه کي:

حزب اسلامي دهیواد په دننه اوبهرکي دخپل ولس د صحي ستونزوپه حل کي دتوان په اندازه کارکوي

خواب : الحمدالله رب العالمین وصلوة والسلام علي محمد وعلي اله واصحابه اجمعین .
وبعد : په عام ډول سره ویلاي شم چي دعامي روغتیا ریاست د امکان ترحده پوري خپلو مجاهدینو ، مهاجرینو اوپه مجموعي توګه خپل ولس ته صحي خدمتونه عرضه کوي اوامکاناتو په پام کي نیولو سره دخپلو وروڼو صحي ړنباوونه خواب وایي که څه هم موږ دټولو مهاجرینو په سطح باټولو مجاهدینو اومحلي خلکوته رسیدګي نشوکولاي ځکه چي موږ نه دومره وسیع تشکیلات لرو اونه دومره زیات امکانات چي دهر فرد صحي مشکل حل اویا راکم کړاي شي، سره ددي چي موږ دمسلکي پرسونل ، درملو ، امبولانسونو ، روغتونونو، کلنیکو اوصحي مرکزونو له نظره زیات مشکلات لرو خو بیا هم دهجرت، جهاد اوانقلابي حالاتو په نظرکي نیولو سره ترکومه چي دحزب اسلامي افغانستان توان ایجابوي موږ دتشکیلاتومطابق صحي خدمات سرته رسوو چي البته کافي بي نه بولو خوتر یوي اندازي دخلکوصحي اړتیاوو ځواب ویلي شي اوان شا الله حزب اسلامي افغانستان به دحالاتواوشرایطو مطابق لازم تصمیم نیسي.
پوښتنه :- تاسي دمهاجرینولپاره داخل دافغانستان او په پاکستان اوایران کي څومره روغتونونه اوکلینیکونه لري !

(۷)مخ

پوښتنه : محترم مجاهد وروږداکترصاحب همکار که په عام ډول دصحي اموروپه باب معلومات راکړي بیا به نه وي !

نجیب اوخالقیار له ظاهرشاه نه غوښتي چي دسیاسي حل په پروسه کي خپل مسئولیت اداکړي

تیره شپه دکابل دلاسپوځي رژیم راډیو داتوبجو په خبري سرویس کي خبرورکړ چي درژیم مشر نجیب نن ددوي په اصطلاح ملي شوري غونډي ته په یوه وینا کي دافغانانو مختلفو ولونه په ملي انتقالي حکومت کي دراټولیدو پیشنهاد کړیدي داسي حکومت چي په هغه کي به دکابل دفعلي صدراعظم خالقیار حکومت ، دپیښوردموقت حکومت ، په ایران کي د ۹ ګونو ولو، دقوماندانانو شوري، په اروپااوامریکا کي سیاسي شخصیتونه اودظاهرشاه اطرافیان پکي برخه ولري، اووظیفه به یې داساسي قانون اودانتخاباتو دقانون جوړول دمهاجرینو بیرته راګرځیدل،ځاي په ځاي کیدل اوپراوریند باندي نظارت وي .
نجیب په خپله وینا کي په ځانګړي توګه پخواني پاداشاه ظاهرشاه ته په وا رواراوتاکید بلنه ورکړه چي راشي اودملي روغي جوړي په پروسه کي خپل مسئولیت اداکړي ، هغه وویل چي همدا موږیو چي ظاهرشاه ته بلنه ورکوو ، اسلامي بنیادګرایان په هیڅ صورت دظاهرشاه راتلوته تیارنه دي ان چي حضرت صبغت الله هم دهغه له راتلوسره مخالفت لري .
کابل راډیو پەیوبل خبرکي وویل چي درژیم صدراعظم خالقیارهم په ملګروملتوکي دخپلي وینا په ترڅ کي ظاهرشاه او په اروپا اوامریکا کي سیاسي

۸مخ



بنام خدائیکه بی اندازه مهربان نهایت بارحم است

سرمقاله

مداحي نجیب ازامریکا ودلسوزي وي با اسرائیل

بعداز ناکامي کودتاي کمونیست هاي افراطي درماسکو وبالاګرفتن موج آزادیخواهي درقلمرو امپراطوري سرخ ، دولت هاي کمونستي متکي به کمکهاي کرملین چون کیوبا، افغانستان ، انگولا و ... که دیگر ازدریافت کمك ازآنکشورناامید شده اند درتلاش تدارك منابع دیگرکمکي برآمده اند . نجیب رئیس رژیم مرتد کابل که با شوق واحساسات زایدالوصفي روي صحنه آمدن عناصر افراطي کمونست را به این امید جشن گرفته بودکه برخلاف سیاست هاي اصلاح طلبانه گرباچوف ، اومورد حمایت بیشتر زمامداران جدید ماسکو قرارمي گیرد، مگر کوتاهي عمر کودتاگران وبابکوبي نجیب درازاله گرباچوف موجب شرمندگي بیشتر چاکر ازبادار گردید . از جانبي باناکامي کودتاي اخیر ماسکو که بمثابه آخرین تنفس کمونیزم براي زنده ماندن به شمارمیرود ، آفتاب حیات کمونیزم ازصحنه هستي افول کرد وبانیان کمونیزم خود بااستفاده ازفرصت وبخاطر تسلیمي به ذهنیت عامه با احزاب کمونیست وداع گفتند وباحالت فضیحتباري انحلال تشکیلات حزب کمونست را درماسکو اعلان کردند وبه تعقیب آن دراکثریت جمهوري هاي شوروي مردم به انحلال حزب کمونیست واعلان استقلال متوسل شدند .
اعلان آزادي جمهوریهاي محکوم شوروي ازحاکمیت ماسکو واضمحلال حزب کمونیست که یگانه امید براي رژیم دست نشانده وکمونیست کابل بود وبه تعقیب آن اعلان قطع صدوراسلحه وانسداد ارسال مورد غذائي واحتراقي به کابل، لرزه مرگ براندام رژیم کابل مستولي شد .
نجیب که یك عمر ازهم کمونیزم وغم پرولتارياي جهان فراغت نداشت وپیوسته براي ایجاد جامعه کمونیستي وپیوستن به کشورشوراها حسرت میخورد وازطعن ولعن آنچه بزبان کثیف اومي آمد، نثار اسلام وبعدنثار امپریالیسم میکرد، بامتزلزل شدن امپراطوري سرخ باعقاید ومواضع اسبقش یکسره قطع علاقه کرد نجیب نخست میخواست تانیازمندیهاي نظامي واقتصادي اش را ازهند، ایران و... جبیره کند، ولي بعداً به این نتیجه رسیدکه کشورهاي نامبرده بارسنگین نیازمندیهاي اورا برداشته نمیتواند ، لذا شروع به مداحي امریکا ودفاع اسرائیل نمود .
چند روز پیش نجیب گفت که بنیادگرائي اسلامي درکشورهاي پاکستان ، افغانستان وایران خطربزرگي براي امریکا، اسرائیل وترکیه است . همچنان اوگفته است که رژیمش مداح امریکا ومدافع دولت اسرائیل است . هکذا نجیب ازامریکا تقاضا نموده

ص(۷)

طلاب مسلمان افغان طی تظاهراتی دربرابرقنسلگری ایران درپشاور عملکرد روزنامه کیهان انترنشنل راتقبیح کردند

گزارش گر: رحیم گل منیب
پیشاور - ۲ میزان :
هزاران تن از محصلین ، متعلمین وطلبه مدارس ومکاتب مختلف طي تظاهراتي با شکوهي اظهارات روزنامه کیهان انترنشنل چاپ ایران مبني برنشرمضمون تهدید آمیز علیه برادرمجاهد حکمتیار امیرحزب اسلامي افغانستان به حیث تروریزم دولتي تقبیح کردند .
خبرنگارشهادت ازتاون پشاورگزارش مي دهد : که حوالي ساعت ۸ صبح روزسه شنبه ۲ میزان" تعداد زیادي از محصلین وشاګردان مکاتب ومدارس مختلف شهرپشاور، درحالیکه بیرق ها ، فوتوهاي برادرحکمتیار وشعارهاي "مرگ برکارگردانان روزنامه کیهان" ، "ماخواهان محاکمه کارکنان روزنامه کیهان هستیم" ، "دفترکیهان باید مسدود گردد" ، زنده باد برادرمجاهد حکمتیار، دشمنان برادرحکمتیار دشمنان جهاد اند و" اي کیهان بي وجدان مرگ براعلان تو" رابا خودحمل مي نمودند ازکوچه ها وسرك هاي مختلف تاون پیشروي دفترقونسلگري ایران جمع گردیده وتظاهرات عظیمي رابراه انداختند .
ناظمین اجتماع درحالیکه نقش عمده وکلیدي تنظیم حزب اسلامي وبالاخص رول قاطع قیادت حزب را درخنثي کردن توطیه هاي قدرت هاي کفري وشکست فجیع روسهاي درنده صفت ازافغانستان به حضار بیان مي نمودند عملکرداخبار کیهان وحکمرانان ایران رامحکوم کردندواین رایك توطیه خائنانه علیه جهاد اسلامي خواندند .
تظاهرکنندگان نفرت و انزجار شان را دربرابر توطیه ناجوان مردانه وناعاقبت اندیشانه کارگردانان روزنامه کیهان انترنشنل چاپ ایران که بیان گرواتعکاس دهنده اهداف وپالیسي دولت ایران است، شعارهاي دسته جمعي ابرازمي نمودند .
یکي ازسخنرانان اجتماع طي گفته هاي شان ازملت قهرمان وشهید پرور ایران اسلامي خواست که به مشتي ازمتعصبین وجاه طلبان که فعلاً برأریکه قدرت ایران تکیه زده اند اجازه ندهند تاشعار" نه شرقي نه غربي جمهوري اسلامي " رابه سازش ها به قدرت هاي کفري مبدل سازد

ص(۷)

گوشه ازتظاهرات احتجاجیه محصلین افغاني علیه اخبارکیهان انترنشنل درپیشروي قونسلگري ایران درپشاور

عملیات بزرگ و هماهنگ مجاهدین برمراکز نظامي دشمن در کابل علي الرغم تبلیغات ناجوانمردانه دوستان اجراخواهدشد

دښوونې او روزنې زارحالت پاملرنه غواړي

تنګهار

داچې ښوونه او روزنه دهرې ټولنې اوخلکو ترټولواهم ضرورت دي اوزموږ مقدس دین اسلام هم پوره تاکیدپرې کړې ، نولازمه ده چې دامورو دمسئولینو له خواورته زیاته پاملرنه وشي، بیا چې پدې انقلابي شرایطو کې زموږ واړه اوځوانان ښوونې اوروزنې ته څومره اړتیالري ، هغه هرڅوك محسوس کولای شي .

دجهادپه لمړنیو کلونوکې په روسانو اوههغوي کمونستونوکرانو تل داویل چې ګواکې مجاهدین اوجهادي تنظیمونه خصوصا حزب اسلامي دعلم ، پوهې اوتعلیم مخالف دي اوغواړي چې خلك دناپوهۍ په تیاروکې وساتي . څرګله چې حزب اسلامي دجهادپه ګړاوجنو حالاتوکې په خپلو کمرامکاناتو دښوونې اوروزنې پلوته څومره پاملرنه وکړه ، دهغې له امله یې عملا دشرمېدلیو کمونستانو دغه پروپاګنډې له خاوروسره خاورې کړې اوپه انقلابي شرایطو کې یې تقریبا زیاتره هلکانو اوځوانونوته دلیك ، لوست اوزده کړې شرایط برابرکړل .

اسلامي حزب لکه دجهاددنورو برخوغوندې دښوونې اوروزنې په برخه کې هم ترټولو مخکې شو اودجهادي لمړنې ښوونځي اومدرسې دجوړولو افتخارېې وګاټه اودمسلحانه جهادپه څنګ کې یې ښوونې اوروزنې ته هم پوره اهمیت ورکړ . بیاځې دهجرت په دیارکې ته چې دهیواد دننه هم ترهرچامخکې شراویې شمېره ښوونځي اومدرسې یې پرانستلې .

لکه دنوروبرخو، دارنګه ورسره په ښوونه او روزنه کې هم سیالي پیل شوې او نوروتنظیمونو هم هڅه وکړه ترڅودحزب اسلامي په شان ښوونځي اومدرسې ولري اوله دې لارې دخلکو پاملرنه دځان پلوته راواړوي اوهم وکولای شي پدې تامه بهرني مرستې لاس ته راوړي ولې متاسفانه چې دهغوي دنیت مطابق پدې برخه کې هم ناکام اوناامیده شول، سره له دې چې دبهرنیو مرستو جلبولو آرزوېې پوره شوه .

حزب اسلامي په پراخه سینه دغه مثبت رقابتونه اوسیالي په ځاې اوګڼور کاروګانه اوحتې نورېې هم تشویق اوترغیب کړل .

په رښتیاهم که دغه کار لکه دحزب اسلامي په شان په اساسي اومنظم ډول دوام پیداکړې واې نوزموږ دمحروم ځوان نسل ډیر دردونه به پرې دواشوي واې، کاشکې دغه ډول مثبتورقابتونو دمنفي اوبې ځایه رقابتونو ځاې نیولاې واې .

سږکال نسبت نوروکلونوته دزده کوونکو اوطالبانو شمیر ډیرزیات شوي ، څکه پرېښوانیو برسېره نورنوي زده کوونکي اوطالبان دلوړو زده کړولپاره له جبهوته راغلي او له حزبه پرته دنوروتنظیمونو دردخواب له امله دغه بې کوره اوبې ځایه مجاهد زده کوونکي ، حیران ، اواره اوسرګردانه کوڅه په کوڅه اوکمپ په کمپ ګرځي ترڅو چیرته دداخلیدو چانس ترلاسه کړي .

تنظیمونوددې په څنګ کې خپلې پخوانۍ ښوونځي اومدرسې هم تړلي او په زرګونو زده کوونکو ته یې ځواب ورکړي ، چې دغه زده کوونکي اوس له جبهوراغلي ټول یې سرنوشته پاتې دي .

دمعلوماتو له مخې دحزب اسلامي دښوونې او روزنې کمیسیون دخپل پلان اوپروګرام په خلاف ، زموږ ددغومظلومواومحرومو ځوانانو دراتلونکي په خاطر، له دغوزده کوونکو ته په ډیرشمېرکې په خپلو ښوونځیواومدرسو کې داخل کړي اوهغوي ته یې دزده کړېپرڅراوبطويرسربېره دلیلیې اساتیاوې هم برابرې کړي دي اودغه لړي لادوام لري . ولې داهم ښکاره ده چې حزب اسلامي په بیاځې صورت په هیڅ ډول نشي توانیدلاې ترڅوټول هغه زده کوونکي اوطالبان چې نوروتنظیمونو ځواب کړي اوبیاهغه چې نوې له جبهوراغلي په خپلوښوونځیوکې جلب کړي . څکه ډیرزده کوونکي هغه هلکان دي چې کورونه یې په افغانستان کې دي اودلته لیلیې ته ضرورت لري اوبیادټولو هلکانو لیلیه کول دومره لګښت اوامکاناتو ته ضرورت لري چې دیوه تنظیم له توانه نشي پوره کیداې .

ولې داچې دهیواد دغه مظلوم اومحروم بچیان سالې اسلامي روزنې اوزده کړوته ضرورت لري اوپه هرډول چې دې باید هغه پوره کړای شي نوحزب اسلامي له تنظیمي تعصب نه پرته دټولو تنظیمونو شړل شوي زده کوونکي په پوره سرېه اودخپلو امکاناتو اوتوان مطابق په خپلو ښوونځیو اومدرسوکې داخل کړي اولاداخلوې یې . په داسې حال کې چې بهرنې مرستې هم بندې شوې، دحزب دغه قرباني اوله خپل ګېډلې مسلمان ملت سره خواخوږي په خامخا زموږ دیارلې تاریخ زرین پاب جوړوي . ولې دنوروتنظیمونو دغه جفا به هم دچاهیره نشي . که څېره دپیسو دنشتوالي وي، نوهمدااوس هم دغه تنظیمونه په منلې رقابتونوارېې ځایه لګښتونو کې دومره پیسې لګوي چې که یې په سلوکې پنځوس برخه وسپموي هم ددغودریه دره زده کوونکو اوطالبانو دزده کړې کاربه پرې وشي .

که دتنظیمونومحترم مسئولین پرځل دحزب اسلامي دلیسواومدرسو دروازوته ورشي اودغه رچې شوندې ، سپېره اوحیران هلکان وګوري چې په بې شانه بې صبرې دداخلې په کش وګیرکې دي، نوبوه به شي چې دغه دشهیدانو اوکونډو بچیان څومره مظلوم دي ا اوڅومره دزده کړې شوقمن اوتږي . کاشکې هغه مشران چې ځانونه دملت وارثان اودجهاد بانیان ګڼي اوهره ورځ دپردیو رادیوګانونه دحزب اودهغه په مشرتابه باندې لفظي برغلونه کوي، لږدغو مظلومو زده کوونکو حال ته هم وګوري اودخدای (ج) لپاره دهغوي په حال رحم اوغوزوکړي اوپدې برخه کې له حزب اسلامي سره سیالي اورقابت وکړي .

هغه هلکان چې دکونډومېنډو دځګر اوهګیر په پیسو تردې ځایه رارسیدلي اودلته هم سرګردانه اولااهانده ګرځي ترڅوبوټکي زده کړي اوپه راتلونکې کې داسلام اوهیواد په دردوخوري، کم ترکمه بهرته کورته رسول خوبې ضروري دي ، پدې هکله دتنظیمونوبې تفاوتي به زموږ ګېډلي اوځوریدلي مسلمان ملت کله هم ونه بښي .

####################

دکابل لاسپوڅي رژیم د خودکشي په درشل کې

ناګار

افغان جهاد دخپل ځرنګوالي له مخې دیوه شدیدعکس العمل په توګه دنړۍ دیره ستره امپراتورۍ رنګه اوهم یې په فکري اونظریاتي لحاظ پرنړیوال سیاست مسلط نظام کمونیزم ته ماتې ورکړه ، خوددې ژغورونکي جهادیون پردې بسیانه شو، اوپه نړیوال دګرېې په ځان پسې دمحکومانو لیکې اوصفونه ودرول . اوپه سرتاسرې شکل دآزادۍ غورځنګونه په څپوشول . دجهاد بهیرپه اغفال شوي اسلامي امت کې داسلامي ویښتابه نهضتونه څرګندکړل، اوپه رښتیاني دول یې همداهغه ستراتعکاس دي، چې دکمونیزم دبوت له راتړېدلو وروسته یې پرلویدیځ ښکیلاك لرزه راوستې ، اوهغه یې دې ته اړابستي دي، چې دافغانانو له جهادنه نیولې ترکشمیر، فلسطین اومنځنۍ آسیا دپیښو پورې خپلې نه ستړې کیدونکې شیطاني هڅې لاګړندې کړي . له همدې کبله دامریکا جمهوررئیس په اصطلاح دکرکیچونودحل اویاپه بل عبارت داسلامي خوځښتونو دورځ په ورځ پرمختګ دمخنیوي لپاره نوي نړیوال نظام تخلیق کړ، چې دپاتګوالي تشه پوځې هڅه اونورهیڅ کوم ایدیالوژیکي بښت نه لري . دروس دکورنې بدلون پروخت دحفظ ماتقدم په ډول نړیوال ښکیلاك دخپل ټول چل اوفریب سره دمجاهدینو دمتوقع اسلامي حکومت دجوړېدو په وړاندې دیوه حایل په ډول دوینو دټیدو په نامه داسې هلې ځلې پیل کړې ، چې تریردې لاندې یې دکابل دګوډاګي رژیم دپلویانو بقا اوهم په راتلونکي مشرتابه کې ورته دګډون وړکولو حق پټ ؤ. چې داځومباشتې دملګروملتونو داداري په شمول دلویدیځ ګردسیاسي ماشینونه په همدې محورراوڅرخیدل ، که څه هم دځینې مجاهدتادلو له خوادښکیلاك دازیارځه په ښکاره اوځه زموږ دمجاهدملت پرضد دیوه برېنډ تیري په توګه په پټه بدرګه شو، خواسلامي تحریك پرېکنده اوغوځ دریځ دادول هڅې دېرې پولې ته پرې نښودې اودا ښکیلاکي پلانونه باخودخبرو دمیزترشاپاتې شول، اویا دیوه پیژندل شوي کافرانه پروپاګند په ډول درادیو دڅپوله لارې هواته نذرانه اویاد،باد شول .

په بله وینا دنړیوال استکباراوشیطاني زیار زموږ دجهادپدې حساسواوبرخلیك ټاکونکو شیبو کې دمجاهدینو په سرتاسرې عملیاتو چیلنج شو، اوپوځل بیاېې داسلام دښمنانو ته جوته کړه ، چې قرباني ورکوونکي ځواك پخپله خپل سرلوښت ټاکلی شي . دروس له انتشاروروسته دکابل دګوډاګي رژیم دپلویانو مایوسي چې یو ځرګند حقیقت دې دجهادي ځواکونو پراخو اوهیوادشمولو جهادي عملیاتو بویه دوه کړه ، اوداډې دیاوورې خبري منابعو دڅرګندوونو له مخې دنجیب رژیم دانشعابونو اوولیندیو له کبله دخپلې خودکشي پرلورګامونه چټك کوي . دوطن دګونددننه داسې اوازې خورې شوي، چې دخلق اوپرچم پرولګیو سربیره دګوډاګي رژیم ترمنځ دجمهوریت اودیموکراسي په نوم نوبل ګروپ راتوکیدلی ، اولکه چې تول خبریو، دخلق اوپرچم خپلمنځي اخ ودب هغه ستونزه ده ، چې دروسانو په حضورکې هم حل شوي نده ، نوله دې منځ له دوطن دګوند نورپلویان رابیلیدل په خامخا داماتا ولري ، چې داګوند درې ورې اونورډمجاهدینو دګوزارونو په وړاندې خپل قوت منسجم کولې نشي ، جاني همدالامل وي، چې دافغانستان دچارولپاره دامریکا نماینده تامسن په " بوش هاوس " کې په وازکوډې اعلاموې ،چې ګوډاکې نجیب باید خپل ځاې پریږدي ، که څه هم دتامسن نوره مرکه دښکیلاکګرودڅرګندغرض نماینده ګي کوي، خودیوه امریکایي مسئول په توګه دنجیب ردول ، چې تراوسه پورې پرې لږه خطرناکه وي، څومرګوروو، چې دمجاهدینو په وړاندې دیوه لوړې په دول تینګ ولاړوو.

دغوروورخبره ، اوداپه ګوته کوي، چې دښمنان هم دکابل درژیم په زوال پوه شوي، او نوریې دبقا څوبونه نشي لیدلې . دلویدیزې ترې خبرې آژانسونه زیاتوي، چې دوطن په ګوند کې مشهوره ده ، چې نجیب استعفې ورکوي، اودکمونستې ولې دښکته پورې په سازمان کې شپږنامشهورګوندیان زیارګالي، چې دګوند مشرتوب اشغال کړي دا هغه څوك دي، چې عام میدان ته دراتلولپاره دیوه مناسب وخت انتظار وباسي .

څرګه دافغانستان په باب دښکیلاکګروهیوادونو هلې ځلې، دمجاهدینو شدید وسله وال سرتاسري عکس العمل اودکابل دمزدوررژیم نوټې نوټې بدن ته وګورو ، نو پوهیږو، چې دجهادپه باب داستکبارهلې ځلې که هرڅومره نودې اوګرمې وي، خوبیا هم دیوه خارجي عامل په توګه دومره اهمیت نه لري، ددې ترڅنګ که چیرې دنجیب حکومت پوځې پیاوړتیالرلې، نوخبره په دروس دکمونیزم غوندې وطن ګوند هم درې ورې اوپه ځویرځورشل شوي، نوپدې صورت کې له مجاهدینو سره یې دمقاومت سوال نشي راولاړیدلې . دجهاد په باب که ټش دګردیز خبرواخلو، چې دمزدورحکومت پنځوس افسران مړه ، دوه څلویښت یې زخمي اوپه لسګونو پوځې مهمات اووسایل یې ویجاړشوي ، اوهمدې ته ورته پیښې په ګردومحکومو ښارونو کې تکرارېږي . نوداتیکل کیدې شي، چې دنجیب " دپلویانو ژوندتورڅوښیونه راتیت شوي، اوډیر ژر به په ګرد افغانستان کې داسلامي حکومت بیرغ ودریږي . همدااول دجهادي مشرتابه له خوادګوډاګي رژیم پلویانوته دعامې بښنې اعلان یوبل ګام دي، چې واخل به یې دوطن ګوند په حلقو کې نودهرکلې وشي، څکه دکمونیزم نړیوال زوال اودسرې امپراتورۍ تجزیې باید ګوډاګیانو ته دخپلې محتوی نابودې احساس ورکړي وي . اودمجاهدینو له دې والي نه باید دیوه سرغښت په ډول دخپلې بقا ګټه ترلاسه کړي .

مرورگذرایی برروزگارنامیمون رژیم کابل

محمود الحسن

درست بیش از ۱۳ سال قبل رژیم دست نشانده روس ها در افغانستان براریکه قدرت نشسته چهره هایي منحوس ازمارکسیزم نمایان گردید. باتعقیب این چهره نمایي هاي جرثومه هاي الحاد ، فرزندان صدیق اسلام - دورنمایي این فاجعه ننگین را ترسیم کرده براساس حکم قاطع اسلام دیگران را بجهاد دعوت داشته صفوف مستحکم را براي نابودي این آدمك هاي ظاهرا افغاني بوجود آوردند.

همزمان با سقوط رژیم داؤد واغتصاب قدرت توسط اجنت هاي روس بالوسیله فعالیت هاي اسلامي افراد نهضت و اوج گیري هاي جهاد مسلحانه بیشترشده پیوستن به صفوف انقلابیون مسلمان روزافزون میگردید . تحکیم روزافزون صفوف افراد نهضت ازیکسو وآغازعملیات مسلحانه توأم باسرکوبي ها بیبهم وابستگان رژیم از سوي دیگر موجب نگراني بیشتري رژیم وبادارا ن خودکامه اش گردیده باپیروي ازروش دیکتاتوري پرولتاریا درتطبیق خصلت ضدانساني مارکسیزم پرداختند.

وابستگان رژیم ازین امر کاملا بي خبر بودند که برخلاف دیدآنها - قاطبه مردم متدین افغانستان به حکم عقیده وایمان درجبهه مشترك باافراد نهضت قرارگرفته ،تا استقرارحکومت خالص اسلامي در اداي مسؤلیت هاي ایماني شان مي رزمند ، مزدوران روس بامشاهده کردن شهر هاي مزدحم واشتراك ظاهري مردم در راه پیمایي ها که اکثرا برمبناي رویه خشن وظالمانه رژیم وبامتواري ساختن چهره هاي ضددولتي وابستگان تحریك جهت پیشبرد فعالیت هاي موثر داخلي دربطن رژیم استواربود ، چنان پنداشتند که حقیقتا از مشاکل به اصطلاح انقلابي شان نجات یافته باهیچ نوع مانعي درپیشبرد وظایف خطیر انقلابي مواجه نخواهند شد بنا فاجعه هفت ثور را بنام انقلاب برگشت ناپذیر مسمي کرده باالقاب تصنعي چون خلاق ، نابغه شرق و... گرداننده اصلي این چرخه شیطان یعني تره کي را معرفي کردند.

تره کي تصورداشت که ملت مظلوم بادست تهي نمي تواند دربرابر وي که درحقیقت قدرت وحشي روس اورا حمایت کرده از ارسال هیچ نوع کمك دریغ نمیکند ، مقاومت کرده ،کسب برتري نماید روي آن افراد نهضت وسنگر داران اسلام را وقیحانه بدکاران نامیده علیه آنها درحالیکه خودبه اسلام معتقدنیست اعلان جهاد کرد، این اعلان نه تنها تاثیر مثبتي که، بتواند عمرننگین وي رابیشتر سازد بجاي نگذاشته ، روحیه جهادي مسلمانان راستین راتضعیف نکرد بلکه قاطبه ملت راخشمگین ساخته کفن پوشان به سنگرهاي داغ جهاد سوق داده خلاف تصور تره کي سنگر هاي جهاد مستحکمتر شده درزو شگاف وضعف وناتواني درمیان صفوف رژیم بصورت فزاینده اش ایجاد گردید درنتیجه بي اعتمادي کاملا محسوس درحلقات رهبري هوا داران روس روزافزون شده با گذشت مدت کوتاه منجر به نابودي نابغه شرق گردیده شاگرد وفا دارترکي یعني امین باچهره منفورش رهبري گروه جنایتکاران را عهده دارمي شود.

امین در دوره کوتاه زمامداري اش مفکوره حفظ منافع سوسیالیزم را که ره آورد اصلي فاجعه ننگین هفت ثور است ، اعلان داشته ، آشکارا بیان کرد که " امیدوارم که سوسیالیزم رادرافغانستان بچشم خود مشاهده کنم ". لازم است تا دراینجا ازنقش دوعامل بزرگ ومهم یادآورشد که امین وامثال او را وادارمیساخت تا از سوسیالیزه کردن یك سرزمین اسلامي یاد آورشده ،منافع سود جویانه روسها را درنظر گیرند ،عامل اولي اشتراك فعال روسها بود که منجر به قدرت رسیدن این دویاند بدنام گردید.زیرا اساسا فاجعه را که به راهنمایي مستقیم واشتراك حقیقي روس ها براه انداخته شد ، نامش را انقلاب هفت ثور گذاشتند ره آورد بدبختي هاي غیرقابل تحمل بودکه مستبدانه برملت مضمر ، ماتحمل‌شده بیش ازیك نیم ملیون مسلمان قرباني این فاجعه شد.

عامل دوم مفکوره ماتریالستي این افراد ضعیف الاراده بودکه برمبناي آن باهرنوع نقد، دیگري مخالفت کرده باانداختن حلقه غلامي تلاش بنفع بادارن روسي شان مي کردند ولي با این هم ، حرکت جامعه بسوي سوسیالیزم کاملا بطي بوده ،شاني از پذیرش چنین نظامي درهیچ بعد ابعاد زندگي مشاهده نمي گردید معکوسا اوج گیري مخالفت هاي شدید درصف گروهك هاي خلق و پرچم وعصبیت متحیرالعقول وروزافزون مجاهدین درمراکز شهر ها باعث آن مي گردد که روس ها بهانه تراشي کرده حفیظ‌الله امین غربیان راعنوان قرار داداده بیش ازیکصدهزار قشون سرتاپامسلح روسي را با سرنگوني امین وسپردن قدرت به کارمل به افغانستان داخل ساخته به تمام نقاط مهم وشهر ها جابجا مي کند این عروسك روس ها بعدازاشتغال قدرت که نسبت به هرزمان دیگر ازحمایت بادارن روسي اش بیشتر بهره منداست ، این تحول ننگین را که باعث تهاجم صریح قشون سرخ درملك رادمردان مي گردد نامش را مرحله نوین وتکاملي گذاشته به اصطلاح مبارزه بي امان علیه ضدانقلابیون اعلان مي دارد.

درین مرحله نامنهاد نوین وتکاملي،عقیده‌مارکسیست ها برآن بود که چون مستقیما به اصطلاح قواي صلح درافغانستان وارد جنگ شده بي رحمانه به کشتاروویرانگري ها اقدام کرده است ، دیگر توان مقاومت به پاسداران اسلام باقي نمانده به مدت زمان خیلي ها کوتاه به آرمان خبیث شیطاني نایل مي گردند ، بناء بدون نظرداشت کیس سیاسي عفوعمومي اعلان داشته دروازه ها ي زندان ها بازمي گردد.

ولي حرکت اسلامي وانقلابي ملت مؤمن وقهرمان که برمبناي عقیده وایمان براه افتیده بود ، به اتکا نصرت وامداد خداي قدیروقهاربه پیش کشانیده مي شد. مجاهدین مؤمن وراستکار بادیدن روسهاي متجاوز بیشتر جذبه ایماني شان غلیان شده عاشقانه درراه الهي رزمیدند وباخداي خود تجدید عهد نموده شعاع یافتح ویا شهادت راوردزبان ساختند تا آنکه باګذشت چند روزمحدود اکثر شهرها وولسوالي ها فتح شده پیشروي ها ي زیادي نصیب مجاهدین گردید.

این وضع که خلاف پیش بیني مارکسیست هابوده به پیروزي بیشتري سربازان اسلام مي انجامید رژیم کابل وبادارن روسي شان را بر آشفته ساخته توجه جدي درکشتار ها وبباردمان ها بي رحمانه ودستگیري هاي پي هم مبذول داشته ، دوباره زندان ها رابرساخته ، رسم دیرین پاسداران این نظام فرتوت مجددا احیا، گردیده کمونیست ها با انتخاب سلوك قهرآمیز وبراه انداختن انواع مظالم نتوانستند که خشم ملت را فرونشانده زمینه تطبیق آرمان فاسد شیطاني رامساعد سازند.

نه تنها شیوه معمول به سود آنها نه انجامید بلکه باعث زبوني بیشتري ایدیالوژي منحط مارکسیزم شده مفکوره استقلال طلبي ایالت هاي اشغالي راتحریك کرده رهکشاي آزادي گردید.

سردمداران مفکوره پوچ مارکسیستي راعقیده برآن بود که تعویض مهره هاي نابکار مارکسیست ها درافغانستان بقاء عمر ننگین رژیم راتضمین کرده زمینه خوبتري را براي توسعه بیشتري این نظام مساعد میسازد بناء باظهور علایم شکست وناکامي دست به ایجاد تحول زده عروسك آدم نمایي را ازصحنه رانده موجودي همانندش راباچهره ظاهرا انقلابي ووطن پرست به نمایش مي گذارد.

گذشت دوران بیش ازپنج ساله کارمل که آنرا مرحله نوین مي نامیدند ،خلاف میل این خیال بافان تاریخ ، درحقیقت نقطه اوج گیري مبارزات آزادي خواهانه ملت قهرمان ومسلمان بوده شاهد حوادث ووقایع است که صفحات زرین تاریخ این ملت مجاهد رابیش ازهرزمان دیگر مزین تر ساخته به افتخارومباهات فرزندان صدیق اسلام مي افزاید . پیشرفت هاي متحیرالعقول پیشتازان اسلام وشکست هاي فاحش جرثومه هاي الحادبراي روس ها غیرقابل تحمل بوده درجستجوي خدمتگارصادق دیگري مي شوند تا بتوانند امواج طوفنده انقلاب اسلامي ... ساخته به ماحول دیرینه شان ...

... شخص ضعیف الاراده را که سال ها مسئولیت شبکه اطلاعاتي راعهده داربوده سرسختانه علیه انقلاب اسلامي مقاومت کرده است ، با پیام دروغین صلحوآشتي وارد صحنه میسازد - این اجنت معلوم الحال به افراد نهضت خطاب‌آزرده خاطر ها مي کند.

آزرده خاطر ها همان کساني اند که پیشوایان این نظام آنها را بدکاران وحشي مي نامیدند.

همان بدکاراني که علیه آنها جهاد اعلان شده عامل اصلي تباهي هامعرفي میشدند .

این نظام که تشکل از باند خلق وپرچم بوده دردوران جهاد ،سه تن از رهبران خودرا که دوي آن به جناح خلق ویکي آن به جناح پرچم وابسته بود، روي اختلافات شدید داخلي - عدم شایستگي رهبریت ومقاومت شدید وفشارهاي پیهم مجاهدین ، از دست داده ،کشته ومعزول شدند ،شاهد عدم توازن فکري بوده سیاست اخلاف باسلافش غیرقابل قیاس است ، زیرا اسلاف مقتول ومعزول شان باکمال حماقت مدعي علویت کفري شده ، راه پیروزي رادرجنگ وپیکار تصورداشته باهرنوع سازش مخالفت کرده ازقوت لایزال خداوندي که متکاء حقیقي مومنین است اغماض مي کردند ،بااین دید احمقانه باتکاء به نیروي به ایکارروسي تازیده بیخردانه حرفمیزدند ولي چون قوت با زورنیست بلکه قوت باحق است زورگویي هاي این دجالان زمان - جاي را نگرفته به سودشان نه انجامید.

بعد از دوران این سه رهبرمقتول ومعزول دوران نجیب مي رسدکه باانداختن حلقه غلامي مجدد وتعهد تطبیق پلان هاي مطروحه روس ها براریکه قدرت نشسته آمادگي به گذشت وقرباني بیشتري نشان داده موضوعات ازقبیل مذاکره تقسیم قدرت ،تشکیل حکومت ائتلافي ،تشریك مساعي جهت عمران کشور ، دیالوگ و ... رابراه مي اندازد.

این آدمك مي کوشد تا باتغیرسیاست واتخاذ شیوه خلاف طبیعت نظام مارکسیستي ازیام مارکسیزم پایین آمده بامجاهدین یکجا بنشیند ،نجیب که درحقیقت ملعبه روس هااست مي خواهد نقش برازنده را در زمینه بازي کرده با استفاده ازمکرودغاي شیطاني کاروان اطراق شده کمونیزم را بحرکت اورده مسیرنامعلوم راطي کند بدین ملحوظ نظام الحادي اش راپاسدار صلح وآرامش معرفي کرده احمقانه پیشنهاد مي کند تاپاسداران واقعي صلح وسربازان اسلام راه جهاد ومبارزه راکنارگذاشته به عنوان صلح وآشتي تسلیم رژیم مزدورکابل گردند.

واقعیت همان است که‌ملت‌مجاهد وقهرمان ماازابتدا ، آنرا درك کرده مصمم شد که تا آخرین بقایاي الحاد واستقرارنظام آلهي رزمیده لحظه فروگذاشت ازوظیفه خطیر اسلامي نگردد.

این ملت قهرمان که باین عزم و ... بجهاد پرداخت خویشریه ماهیت اصلي رژیم وافراد کردمان آن آشنابوده ازگزنه گویي هاي آنهاتاثیرپذیرنمي گردد.

نجیب باتلاش ها ي مزورانه اش نتوانست تاچهره اصلي کفري خود را متواري ساخته در روند سیاسي پیشدستي نماید بلکه نارسي هاي سیاسي وي وموفقیت هاي گسترده مجاهدین باعث برآن شد تاقشون سرخ روسي ظاهرا ملك افغان ها راترك گفته باایجاد شبکه وسیع بین المللي یك سیاست ضد جهادي را به اشتراك فعالانه بلاك شرق وغرب براه انداخته ازین راه روند تکاملي جهاد را به بطوئیت کشاند.

تلاش هاي عقیم روس ها درابعاد مختلف نه تنها روحیه جهادي ملت راتضعیف نکرد بلکه مقاومت هرچه بیشتر تشدیدیافته جبهه گیري هاي سیاسي باکمال نضج وپختگي متجانب مجاهدین عملا براه افتاد . پیشگامان نهضت ورهبران واقعي جهاد باتحلیل عمیق از جریانات سیاسي سطح بینش سیاسي ملت را ارتقاء بخشیده پیروزي نهایي را در فرداي تابناك جهاد ترسیم کردند‌،ازدسایس وتوطیه هاي دشمن ملت را آگاهي داده طرزالعمل مفید وارزشناك راکه بعنوان دستاوردهاي انقلاب اسلامي راپاسباني کرد اتخاذ کردند ازتصمیم گیري هاي عجولانه پرهیزکرده وازثمر حقیقي ثمره جهاد مجاهدین راشمردند.

علي کل حال پیشدستي هاي ملت غیورومجاهد افغان رهکشاي نوروآزادي گردیده با انفجار عمیق وهمه جانبه درروسیه شوروي که مهد انقلابات پرولتري نامیده مي شد حقانیت جهاد مقدس افغان ها وقلبه نوربرظلمت ثابت ترگردید.

وقوع حوادث ووقایع درروسیه شوروي که منجر به ازبین رفتن نظام مارکسیستي شده رسما حزب کمونیست منحل وفعالیت هاي شبکه جاسوسي K.G.B ممنون اعلان مي گردد ، همه وهمه تاثیرمستقیم درنابودي رژیم کابل داشته دروازه دیگري ازفتح وگشایش را مي گشاید .

اگر دیروز که هنوز ذهنیت رهبري روسیه به اصطلاح بانظام هاي کارگري جهان بوده روسیه رامنحیث قوت بزرگ جهاني محسوب مي کردند رژیم کابل برآن نازیده بدون پشتوانه مردمي علیه یك ملت قهرمان حماسي کرد- امروز باکدام نیروونوان باراي مقابله با این ملت کفرشکن راداشته علیه آن به چیدن دسایس مبادرت ورزد حقاکه باگذشت هر روز حقایق بیشتر روشن ترشده سیماي واقعي جفاکاران جنایت پیشه برملامي گردد.

اگردرین شرایط حساس تاریخي که دیگر ماهیت اصلي ومفهوم نابکارمارکسیزم حتي براي پیروان هفتاد ساله اش خویشرهویداگردیده سیر درین راه راباعث فقروذلت مي دانند -رژیم دست نشانده درکابل ازملت مظلوم تقاضا وبدخویي نکرده خویشتن را تسلیم این شیرمردان اسلام نسازد- یقینا مورد ضربات کوبنده وحملات کفر برکن قرارگرفته یکجا با اسلاف نامسلمان شان روانه زباله دان تاریخ خواهند گردید.

من متیقن ام که خشم ملت در برابرکفروالحاد باوج خودرسیده دیگرکاسه صبرسرزگردیده است،واین ملت باقبول ایثار ،فداکاري هاي اسلام دوستانه که زمینه نابودي مفکوره کهن مارکسیزم رامساعد ساختند درتوان دارند تایك رژیم منحط را که هنوز حالت صفارت رابشت سرنگذاشته است بایك حمله هم آهنگ ومنظم براي همیش نابودساخته ،حکومت‌خالص اسلامي را درسرزمین مردخیز شان بنا کنند.

په لبنان کې یوبرطانوي برغمل خوشې کړې شو

دهلي ۲ لیته :

په لبنان کې دایران پلوي انقلابي عدالت ګوند یوبرتانوي برغمل حکسان چې مخکې یې وعده ورکړې وه چې په ٤٨ ساعتوکې به آزاد کړې شي خوشې کړیدی

ددغه پیغام سره دامریکایي برغمل جوسف سسقیوعکس هم ملګري و دانقلابي عدالت ولې تیره هفته، وویل ترڅغه وخته پورې چې اسرائیل هغه شل کسه نورعرب بندیان خوشې نکړي نورلویدیزبرغمل به خوشې نشي په دغه نوي پیغام کې دریږي غوښتنې یادونه نه وه شوي

محمدي رسالت نړيوالو ته دخلاصون زيري

ژباړه عبدالمجيد هدايت خوګياني

نړي توره تياره وه دڅمکي په مخ باندي دشرك اوبت پرستي جال غوړيدلي و انسان دخپل حقيقي خداي پرځاي د كاڼو ،ملائكوستورواوتوروومخلوقاتو لمانځنه كوله ضلالت خپلي پنجي دخلكو په زړونوښخي كړي وي دانسان نه دانسانيت لاره خطا شوي وه ، انس الفت اومحبت دزړونو څخه كوچ كړي و وحشت ، ظلم اوبربريت حكمفرماؤ، بيوزله انسانان به پكول كيده اوظالمانو به بي سرونه قلمول . دكونډواويتيمانو حقوق تربپښو لاندي شوي وواوهيڅوك نه وو چي ديتيم په سرد مهرباني لاس راوكاږي ولسونه اوقبيلي به په خپلو مينځو كي په كلونو كلونوبه بي هدفه جنګونو سره اخته وي اودمظلوانسانانو وينې به دبي رحمه غاصبانو دناروا خواهشاتو دپوره كيدو ندرانه كيدلي ، دانسانانو دزړونو څخه دسكون اواطمينان مرغه الوتي و اوذهني اضطراب اوپريشاني ښكارشوي و تور سري دټولنيزي بي عدالتي ښځيه په مخ وهلي وي دميراث داخيستلو څخه محرومي وي ، دښځينه اولادپيداكيدل په شرم اوعارګڼل كيده په ژوند به ښخيده اوپه ډيري بي وزلي سره به بي دخاوړولاندي ساه وركوله .

ددي تيارو ، ظلم ،وحشت اجتماعي ناخواليو اواوهام پرستي په مينځ كي د حجاز په څمکه دمحمدي رسالت رڼا وځليدله چي په شغلوبي شرق اوغرب تړل روښانه شول نړي ته بي دعدالت ،امنيت توحيد انس او الفت پيغام راوړ دزړونو څخه بي دكيني بدبيني او خودپرستي تونغي وويست اوپه بشري ټولنه كي بي ديوالي اوهمدردي اساس كيښود .حضرت محمد(ص) انسانانوته دهدايت، نيكمرغي اونجات لاره په ښه كړه اوديوخداي عبادت اوتوحيد ته بي راوباله . حضرت محمد (ص) په انسانانوكي ريښتيني انقلاب راوست خلك بي له بديو څخه منعه اوديكوچارو خوا ته راوبلل اوټولو ته بي دسوكاله ،نيكمرغه اوهوساژوند تيرولو اصول ورزده كړل دحضرت محمد (ص) مباركي لاربښووني ټولو نړيوالو اوبالخصوص مسلمانانو لپاره تل دسوكالي اونيكمرغي نيك ضمانت وركوي حضرت محمد (ص) دټولو نړيوالو لپاره په برابري بندګي ، او دنوروسره په نيك چال چلند كي دلاري هغه مشال چي دډيروكړاوونو تكليفونواومصايبو په تحمل كولو سره بي دخداي دين په پوره امانتداري ټولو نړيوالوته ورساوه نو بي عايه به نه وي چي ددي مباركي هستي دژوندمهموپيښو ته په مختصرډول اشاره وكړو. حضرت محمد مصطفي (ص) درواياتو داختلاف په بناد (٥٧٠) اويا (٥٧١) ميلادي كال دربيع الاول دمياشتي په ١٢ نيټه باندي دقريشو دبني هاشم قبيلي دعبدالله بن عبدالمطلب په كورني كي زيږيدلي و كله چي بي دي فاني دنيا ته سترګي راوغړولي نوپلاربي عبدالله ددي دنيا څخه سترګي پټي كړي وي حضرت محمد (ص) چي كله دخپل عمر شپږ كلني ته ورسيد نو موربي بي آمنه وفات شوه چي دهغي دوفات څخه وروسته دحضرت محمد (ص) كفالت دهغه نيكه عبدالمطلب په غاړه واخيست اوكله چي (٨) كلن شونونيكه بي هم ددي دنيانه رخصت شو چي دنيكه دوفات څخه وروسته بي روزنه اوپالنه دخپل تره ابوطالب په غاړه ولويده . حضرت محمد (ص) دخپل عمرلمړني ځلور كاله په صحرا كي دبني سعد سره تيركړل چي دهمدي كيله په جسامت جرأت پوهه اوبيان كي غښتلي ؤ.

حضرت محمد (ص) دكوچنيوالي څخه دنيكواخلاقواوغوره صفاتو څښتن ؤ چي په كوچنتوب كي بي هيڅكله دخپلوهمزولو سره پڅ بيهوده اوعبث كارونوكي برخه نده اخيستي په رسول الله (ص) كي لا دكوچنيوالي څخه دعقل رجحان اودرايي اصالت ليدل شوي و چي د حجرالاسود دكيښودلو دمنازعي عاقلانه اومناسب حل پدي خبره ښكاره دلالت كوي رسول الله (ص) دخپل قوم په مينځ كي دصادق ،امين نيك سيرته نيك چلنده او وفاپوره كوونكي شخصيت په توګه مشهورؤ دهغه نيك شهرت اوپوره امانتداري ددي لامل شوه چي حضرت خديجه ورته خپل مالونه وسپاري اودتجارت لپاره دشام خواته لاړشي.

رسول الله دبي بي خديجي دتجارتي مالونو سره دشام په لور وخوځيد پدي سفركي درسول الله (ص) سره دبي بي خديجي مربي مسيره هم ملګري و مسيره چي په محمد (ص) كي امانتداري اوصداقت ليدلي وو نو دآنحضرت صلي الله دغوره صفاتو امانتداري اوصداقت قصه بي خديجي ته وكړه دحضرت محمد(ص) داغوره صفات دبي بي خديجي خوښ شول اودرسول الله (ص) څخه بي دنكاح غوښتنه وكړه داغوښتنه رسول الله هم ومنله اودبي بي خديجي سره بي په ٢٥ كلني كي واده وكړ . رسول الله(ص) دنبوت څخه ترمخه دحرا په غاركي عبادت كاوه ترڅوچي وحي پري راغله اوقرآنكريم پري نازل شو.

رسول الله (ص) څلويښت كلن ؤ چي ددوشنبي په ورځ درمضان دمياشتي په (١٧) مه نيټه په پيغمبري مبعوث شو ددي څخه وروسته دڅه مودي لپاره وحي ودرول شوه ځنډيده و چي درواياتو داختلاف په بنا دشپږو مياشتو نه تر دري كالوپوري وخت بي ونيوه. رسول الله (ص) په پدي موده كي پټ دعوت چلولو اوخلك به بي اسلام ته رابلل اوكله چي دمسلمانانو شمېرتقريباً (٣٠) تنو ته ورسيد، نوخداي اخري استازي ته دښكاره اوجهري بلني امر وشو مدينې منوري ته دمسلمانانو دهجرت څخه دمخه مسلمانان دوه ځلي حبشي ته مهاجر شول چي په لمړي ځل كي دولس نارينه اوڅلورښځي دي اوپه دوهم ځل هجرت كي ٨٣ سړي او(١١) ښځي وي دبعثت په لسم كال درسول الله تره ابوطالب اوبي بي خديجه درسول الله مانديښه دواړه وفات شول .

پدي مهال كي رسول الله طائف ته ولاړترڅودثقيف قبيلي خلك اسلام ته راوبلي رسول الله هغوي اسلام ته دعوت كړل خوهغوي اسلام قبول نه كړ اودرسول الله سره بي ډير غيرانساني چلند وكړ.

رسول الله(ص) بي په كاڼو وويشت اوماشومان بي ورپسي كړل رسول الله يوه باغ ته پناه يوړه دباغ څښتن خپل غلام عداس ته امر وكړ ترڅو رسول الله ته دانګوروبو ووي وركړي كله چي هغه مبارك دانګورو په خوراك پيل وكړ نوبسم الله بي وويله عداس چي تر رسول الله (ص) دمخه دبسم الله كلمه دبل چادخولي څخه نه وه اوريدلي نودعداس نظربي دځان خواته واړاوه اودرسول الله سره ترخبروورسته په اسلام مشرف شو همدارنګه مديني منوري ته دمسلمانانو دهجرت څخه د مخه داسرا، اومعراج واقعه پيښه شوه چي په تاريخ كي بي اختلاف دي خودمؤكد ورواياتو داستناد په بنا دمديني دهجرت څخه د مخه دبعثت په لسم كال پيښه شوي وه دبعثت په دولسم كال دحج په موسم كي رسول الله (ص) دانصار ودېوي ډلي سره مخامخ شو چي شميربي دولسوتنوته رسيده رسول الله (ص) هغوي اسلام ته راوبلل اومسلمانان چي په مديني منوري ته ديرته ستنيدو په وخت كي رسول الله (ص) ورسره مصعب بن عمير وليږه ترڅو هغوي ته قرآنكريم اوداسلام نوراحكام وروزده كړي.

اوورپسي كال كي رسول الله دانصاروډيوي بلي ډلي سره مخامخ شو چي ٧٠ كسه بي نارينه او(٢) كسه پكي ښځينه وي . هغوي درسول الله (ص) سره بيعت وكړاورسول الله دهغوي څخه دولس نفره نقيبان(مشران) وټاكل اوبيرته مديني منوري ته ستانه شول هغوي په مدينه كي نورخلك اسلام ته راوبلل چي دهغوي په لاس ډيروخلكواسلام راووړاومسلمانان شول كله قريش په مدينه منوره كي دخلكو په مسلمانيدو خبرشول نودمكي په مسلمانانو بي ظلم اوزياتي نورهم زيات كړكله په رسول الله په مسلمانانو باندي دمكي دمشركانو سخت ظلمونه وليدل نودمسلمانانو ددين اوځان دژغورني په غرض بي هغوي ته امروكړ چي مديني منوري ته هجرت وكړي ټول مسلمانان په پټه دمكي څخه ووتل اومهاجرشول مګرحضرت عمر(رض) په ښكاره سره دهجرت لاره ونيوله اومشركان بي دخپل هجرت څخه خبركړل خومشركانو دحضرت عمر(رض) دويري اوهيبت له كبله ونه توانيدل چي دهغه دهجرت مخه ونيسي اويا هغه ته څه تكليف ورسوي.

كله چي قريش پدي متيقن شول چي مسلمانان په يثرب كي د عزت خاوندان شول نو په دارالندوه كي سره راټول شول ترڅوفكروكړي چي رسول الله (ص) څنګه له مينځه يوسي په اخركي بي داسي پريكړه وكړه چي دهري قبيلي څخه به يو،يوغښتلي ځوان غوره كوي اوبالاخره منتخب شوي ځوانان به په ګډه سره رسول الله (ص) له مينځه وړي (په شهادت رسوي) چي په نتيجه كي به درسول الله (ص) وينه په ټولو قبايلوكي تيته شي اوبنو مناف به ونه شي كولاي چي دټولوعربو څخه دمحمد (ص) كسات اوغچ واخلي.

تومورې ځوانان درسول الله (ص) دهجرت په شپه دهغه دانګړپه دروازه كي راغونډ شوي وو او انتظاربي ويسته ترڅورسول الله (ص) دكور څخه راووځي اوپه شهادت بي ورسوي رسول الله (ص) دهجرت په شپه پخپله بستره كي ويده نه شويلكه حضرت علي (رض) ته بي امروكړ چي دهغه په ځاي كي ويده شي اوچي كله سباشي دخلكو هغه امانت شيان چي درسول الله سره امانت ايښي وو خپلوخاوندانو ته وسپاري.

رسول الله پرته لدي چي كافران بي ووينې له خپل كوره راووت دحضرت ابوبكر صديق كورته ورغي هغه لادمخه دوه سپرلي دځان اورسول الله لپاره دهجرت په خاطر تياري كړي وي حضرت ابوبكرصديق عبدالله بن اريقط الديلي په اجرت سره ونيوه ترڅو دوي دېن له لاري مديني منوري ته ورسوي رسول الله د پنجشنبي په ورځ دربيع الاول په لمړي تاريخ دخپل عمر په ٥٣ كلني كي دهجرت لاره ونيوله اومديني منوري په لوروخوځيد كله چي دثورغارته ورسيدل نوهلته دري ورځي تم شول كله چي كافران درسول الله دهجرت اوخلاصون څخه خبرشول نوسخت خفه اووارخطا شول دخپلو كورونو څخه درسول الله په لټه كي راووتل تردي چي دثوردغارخولي ته راورسيدل .

مشركانو به يوبل ته ويل شايد محمد(ص) په دي غاركي وي هغه نورويه ځواب وركړ آيا دغار خولي ته نه ګوري چه څرنګه عنكبوت " ځالې " په خپلو تارونو باندي پوښلي اوكبترو دغارپه خوله كي ځالي جوړي كړي محمد(ص) په دي غاركي ندي لځكه معلوميږي چي دډيري مودي څخه دي غارته څوك ندي ننوتلي .

حضرت ابوبكرصديق (رض) دحضرت محمد په ژوند بيريده او ويل به بي چي دخداي پيغمبره كه چيري كافران خپلو ښپو ته وګوري نو موږ ورته اوچته ښكارو رسول الله به ډاډوركړ او ويه بي ويل ابوبكر(رض) مه خفه كيږه خداي جل جلاله له موږ سره دي په دي وخت كي قريشو اعلان وكړ چي هرچا محمد(ص) په قتل ورساوه يابي بندي كړ اوموږته بي په ګوتوراكړاوبايي دهغه دهستوګني ځاي معلوم كړ نوغټه جايزه به وركړل شي سراقه بن جعشم وېښيله چي رسول الله (ص) به يابه قتل رسوي اويابه بي بندي كوي اوجايزه به ګټي اودرسول الله په لټون پسي راووت .

كله چي درسول الله (ص) دوي له پلټني څخه خلاص شو نودغارڅخه راووتل وتجراحمردسواحلو له لاري دمديني په لوروهي شول په لاره كي سراقه ورپسي وروورسيد اوغوښتل بي چي رسول الله په شهادت ورسوي . خو كله چي بي اس درسول لله (ص) خواته نږدي شو نو داس مخكيني پښي بي په ځمكه كي ځرقي شوي دري ځله بي كوښيس وكړ چي اس ته درسول الله (ص) په لور حركت وركړي خوآس به دآنحضرت په طرف نه شواي تلاي كله چي سراقه دا منظره وليده نوپوه شو چي محمد خامخا ريښتني پيغمبردي نو درسول الله څخه بي امان وغوښت او رسول الله ته بي ويل ما ته دڅه شي وعده راكړه نورسول الله هم ورسره د كسري دبنګړيو " لاس بندونو " ژمنه او وعده وكړه چي دكسري بنګړي به ستاوي.

رسول الله دمديني په لور روان ؤ كله چي دقباء سيمي ته ورسيد نوهلته بي ديومسجد تهداب كيښود ، چي په اسلام كي لمړني مسجد دي چي بنا شوي او رسول الله هلته څلورورځي تيري كړي دجمعي ورځ وه چي دمديني په لور وخوځيد مديني منوري ته لا نه ؤ رسيدلي چي په بني سالم بن عوف كي پري دجمعي دلمانځه وخت راغي رسول الله هلته بي هم ديومسجد تهداب كيښود دجمعي لمونځ بي هلته اداكړاوپدي ځاي كي بي دجمعي لمړي خطبه وويله رسول الله چي كله دربيع الاول په دولسمه ورځ مديني منوري ته ورسيد هغه ځاي بي دمسجد لپاره غوره كړچي دده اوښه پكي تم شوي وه بيابي دمهاجرينو اوانصاروترمينځ مواخات وكړ.

اوبيابي هغه مكتوب وليكه چي يهودوته پكي دخپلو ديني مراسمو دااكولو اجازه اودمالونو دحفاظت ذمه وركړه شوي وه ددي ټولواخلاقي اودعوتي پوره پوره لوړتيا ترڅنګ رسول الله دخداي دلاري يولوي مجاهد هم ؤچي په غزواتو كي به بي دمسلمانانو قومانده په غاړه اخيسته اوپه ډيرغوره تدبيراولوړنظامي تكتيك سره به بي دمسلمانانودجګړو رهبري كوله ترهرڅا دمخه به دجنګ په صف كي ولاړؤاوتوره به بي چلوله درسول الله د غزواتو شمير (٢٦) اودسراياو شمير ٣٦

نه رسيږي رسول الله دبدرپه غزوه كي چي دهجرت په دويم كال پيښه شوه داحد په غزوه كي چي دهجرت په دريم كال پيښه شوه داحزابو په غزوه كي چي دهجرت په پنځم كال پيښه شوه د حديبي په پيښه كي چي دهجرت په شپږم كال پيښه شوه د خيبر په غزوه كي چي هجرت په اووم كال پيښه شوه عملا ونډه اخيستي وه دخداي خاتم الانبياء والمرسلين دهجرت په (١١) كال د ٦٣ كالو په عمردربيع الاول دمياشتي په دولسمه نيټه له دي فاني دنيا څخه سترګي پټي كړي صلي الله عليه وسلم !

مصاحبه بابرادر فضل الدين شاه كه اخيراً به اثر تبادله اززندان پلچرخي آزاد گرديده است

سوال لطفاً خودرا به خوانندگان محترم روزنامه شهادت معرفي نمائيد ؟

جواب : نامم فضل الدين ازقريه دهمراد خان مربوط چهاردهي ولايت كابل بوده وظيفه قبلي ام درورياست مجادله ملاريا ويرازتولوژي بوده داراي ٤٦ سال عمروهشت فرزند ميباشم .

سوال : اگرجريان دست گيري تان را توضيح فرموده ازمدت حبس تان يادآورشويد بهترخواهد شد؟

جواب : الف - اينجانب يكبار بتاريخ ٩ قوس سال ٥٩ بجرم مسلمان بودن وعضويت درحزب اسلامي افغانستان ازدفتركارم دستگير وبعداز مدت پنج سال وچندماه يعني بتاريخ ٢٨ ثورسال ١٣٦٥ دوباره رهاگرديدم .

ب - دوره دوم بتاريخ اول اسد سال ٦٨ پس ازاداي نمازصبح درمسجد درنزديك منزل خود دستگير شدم . دردوره اول هشت سال ودردوره دوم پانزده سال حكم حبس صادرشده بود

سوال : لطفاً جريان تحقيق تان را الي صدورحكم محكوميت تان بيان داريد خالي ازدلچسپي نخواهد بود ؟

جواب : تحقيقات اولي ودومي من متاسفانه درخادشش درك (رياست هفت) بوده وازينكه مرابحيث مسئول تبليغ بخش شفا پنداشته بودند . آنچه عداوت ودشمني با اسلام داشتند ازهيچ نوع شكنجه وعذاب بمقابلم دريغ نكردند ميدانيم كه تمام اعمال ملحدين وعمال روس كاملا بشما مبرهن وآشكارست . بااينكه من ازيك فاميل روحاني ونزد ابن بي خردان ازدشمنان سرسخت كمونست محسوب ميگرديدم . بهرحال خداوند ياروياور بندگان راستين خودبود . يك لحظه هم آنرا تنها نميگذارد .

خلاصه اكثر مشكلات وبيچارگي اسارت نزد اين ظالمان درهمين دوره تحقيق (رياست هفت) رياست تحقيق ، بلاك اول وبلاك دوم ميباشد . پس ازينكه بوزارت داخله (زون) تسليم داده ميشوند يك كمي سهولت درامورمربوط رونما ميگردد .

وقتيكه قيدمن معلوم گرديد وبه بلاك هاي زون تسليم داده شدم . درهردومرتبه به لطف واحسان خداوند كارسازمصروف تعليمات ديني ومذهبي گرديده درپهلوي آن مسايل سياست اسلام واموروجهادي طبق ايات كريمه قرآن عظيم الشان ودساتيرزندگي سازآن گرديدم كه ازين رهگذر خيلي ممنون خداي خودميباشم . زيرا گفته شده است كه :

دركوره امتحان گرم بگدازي
ممنونم ازآن كه بي غشم سازي

باوجوديكه ممانعت هايي ازطرف مسئولين اموربمراتب صورت ميگرفت مانند جزاهاوتبديلي ازيكجابجاي ديگرمحبس ، لت كردن ها وغيره لاكن رضاي خداوند طوري بودكه زندان كمونستي را به پوهنتون عالي اسلامي تبديل كرده وبالاي خودشان اقراروامتراف نموده است كه ما مسلمان هستيم وممانعتي درامور اسلامي نداريم .

سوال : ازجريان آزادي تان چطور مطلع گرديديد ويا شنيدن آن چه احساسي به شما دست داد ؟

جواب : روزشنبه بتاريخ ١٣ برج اسد سالجاري يكي ازمسئوين محبس برايم اطلاع داد كه تبادله شده اي فرداي آن روز ازمحبس برياست تحقيق انتقال ومدت ده روز درآنجا دريك اطاق بدون آب وهوا تحت مراقبت قرارداشتم يكباربه صليب سرخ آورده شديم . درنمايندگي صليب سرخ براي ما فهمانده شد كه شما و ٢٤ نفرديگر ازطرف جبهه شهيد صفي الله افضلي مربوط جمعيت اسلامي افغانستان بمقابل يكنفر اسير روسي تبادله گرديده ايد .

گرچه رهايي ازچنگال چنين دشمن بي وجدان يك امري است كه انسان فكرميكند كه جديداً ازمادرتولد شده است . ولي محبت وصميميت برادران زنداني واينكه بايك شوروهيجان ! وداع كرديم . خيلي پريشان گرديدم .

اكنون ازبارگاه خداي قادروتوانا آرزودارم تاحكومت قرآن رادركشور عزيزما ودرسراسر جهان نافذ وتمام مشكلات وارده رابرطرف نموده وحدت وصميميت واقعي قرآن رانصيب تمام مجاهدين راه حق بگرداند .

سوال : فعلاً كه آزادشديد چه تصميمي را پيشروداريد ؟

جواب : بتاريخ ٢٣ اسد بعداز ورودبميدان هوايي پشاوربه نمايندگي شهيدالفضلي رسيديم كه بعدازيك پذيرائي گرم وپراحساس به سوالات ژورناليست ها ي داخلي وخارجي پاسخ گفتيم .

بتاريخ ٢٩ اسد سال جاري جهت ملاقات بحضوربرادرگرامي انجنيرصاحب حكمتيار اميرحزب اسلامي افغانستان مشرف گرديده وايشان بمازيك سلسله شفقت ومهرباني امرفرمودند تا درفرقه سما (سپاهيان مجاهدين اسلام)بحيث مدرس تعليمات ديني ورشد فكري اجراي وظيفه نمايم . اكنون نظربه هدايت شان مسائل اداري تقرراتم تكميل گرديده است كه عنقريب مع الخير عازم آن فرقه ميباشم .

بايد اضافه كنم كه درهروظيفه لي كه درخدمت حزب محبوب خودباشم افتخارميكنم .

دراخير از برادران مسئول اخبارشهادت اظهارسپاس وتشكرميكنم كه موقع چنين مصاحبه رابرايم فراهم كردند .

نوي نړيوال نظام، دكمونيزم زوال اواسلامي نړه

ژباړه «لټون»

پومهال داسي هم ؤ ، چي ختيزه اوروپا كي چادماسكو دواكوالو له اجازي پرته ځان هم نه شونبوروولاي، اوياداوسني وخت دي چي دروسي بلاك پوري ترليو هيوادو په واروار سره كمونيزم له خپلو هيوادو وراټه اودخپلوهيوادودبيا جوړوني په چاروبوخت دي، په ختيځه اوروپا كي دكمونيزم پرخلاف بغاوت راولاړشو، دبرلين پولادي دبوال دري وري شو، ختيځ اولويديځ جرمني سره غاړه غوټي شول، په چكوسلواكيا ، بلغاريه ، يوګوسلاويا، پولينډ اونورو هيوادوكي دكمونستي واكوالو تختونه نسكورشول، په روسي اتحادكي دننه دليتوانيا، استونيا ، ليتونيا رياستونو خپله آزادي ترلاسه كړه ، په آذربايجان ، تاجكستان ، قزاقستان ، تركستان ، آرمينيا ، جارجيا او نورو روسي ايالتونو كي دآزادي دغورځنګ سيلاب دراوتو په حال كي دي، بالاخره په ماسكوكي ګورباچوف پرلينن اومارکس لعنت ووايه ، په تيرو ورځوكي دګورباچوف اومخالفينو كشمكش بي دمارکس اولينن مخونه توركړل اودهغوي له وحشته ډك بوتان راڼسكورشول، ګورباچوف كمونست ګوند له منځه يووړ او دكمونيزم مستحكم عمارت بي دري وري كړ ، داټول دالهي قدرت كرشمي اودهغه (ج) له رضا سره سم دكائناتي نظام غوښتنه ده .

لكه څنګه چي كمونيزم دظلم اوتيارو اودنيزي په څوكه پرخلكومنل شوي ؤ همدارنګه نړي اوس دنوري په زور دخلاصون تحريكونه روان دي .

دكمونستانو دعوه وه چي هغوي په دسرمايه داري نظامونوپه له منځه وړلو داسي ستريرقي سوسيالستي ټولنه جوروي، چي ساري به بي دنړي په يوه ګوټ كي هم نه ليدل كيږي .

